# د افغان عملیاتو د متحدینو د هرکلي پروګرام ( OAW) مشروطه اقامه درلودونکي د پناه اړوند تکراري پوښتني

**زه د افغان عملیاتو متحدینو د هرکلي پروګرام (OAW) مشروطه اقامه درلودونکی یم. ایا زه باید د پناه لپاره غوښتنه وکړم؟**

د متحده ایالاتو د تابعیت او کډوالۍ خدماتو اداره(USCIS) تاسو ته ستاسو د کډوالۍ د حیثیت په اړه حقوقي مشوره نه شي درکولی. د حقوقي خدماتو موندلو په اړه د لا زیاتو معلوماتو لپاره، مهرباني وکړئ د د متحده ایالاتو د تابعیت او کډوالۍ خدماتو اداري(USCIS)وېبپاڼه uscis.gov/avoid-scams/find-legal-services وګورئ.

---

**که زه وغواړم چې د پناه لپاره غوښتنه وکړم، څه ډول یې وکړم؟**

پناه لپاره د غوښتني په موخه، تاسو باید 589-Iفورمه د پناه او د اخراج د ځنډولو لپاره غوښتنلیک ، بشپړ کړئ او لاربښوونې په ډېر پام سره تعقیب کړئ. تاسو کولای شئ چې د 589-Iفورمه دلته په انلاین بڼه https://www.uscis.gov/i-589 ومومئ. په دغه پاڼه کې یوه "خبرتیا" هم شتون لري چې عنوان یې په دې ډول دی: "مشخصو افغانانو لپاره د پناه چټکه پرېکړه" چېرې چې تاسو لا ډېرې ځانګړې لاربښووني ترلاسه کولای شئ.

که چېرې تاسو له لاندې یادو شوو کټګوریو څخه په یوه کې وشمېرل شئ، تاسو باید د حکومتي مالي ملاتړ د غځولو او د اضطراري مرستي رسولو قانون (Extending Government Funding and Delivering Emergency Assistance Act) تر 2502(c) مادې لاندې د خپلې 589-Iفورمې د چټک پروسس باوري کولو لپاره لاربښوونې تعقیب کړئ.

*لومړۍ کټګوري*

- تاسو د افغانستان تبعه یاست یا تاسو تابعیت نه لرئ خو وروستی استوګنځای مو افغانستان وو.
- تاسو ته په متحده ایالاتو کې د 2021 کال د جولای د 30 مې او د 2022 کال د سپتمبر د 30 مې نېټې تر منځ مشروطه اقامه درکړل شوې وي؛ او
- ستاسو مشروطه اقامه ختمه شوې نه وي.

*دویمه کټګوري*

- تاسو د افغانستان تبعه یاست یا تاسو تابعیت نه لرئ خو وروستی استوګنځای مو افغانستان وو.
- تاسو ته په متحده ایالاتو کې د 2022 کال د سپتمبر تر 30 مې نېټې وروسته مشروطه اقامه درکړل شوې وي؛ او
  - تاسو د داسې یوه فرد ښځه/ مېړه یا ماشوم یاست چې د لومړۍ کټګورۍ شرایط پوره کوي، یا
  - تاسو د داسې یوه فرد والد/ والده یا ساتونکی یاست چې د لومړۍ کټګورۍ شرایط پوره کوي او تر 6 U.S.C. 279(g)(2) قانون لاندې د بې سرپرسته ماشوم په توګه منل کیږي؛ او
- ستاسو مشروطه اقامه ختمه شوې نه وي

د دې باوري کولو لپاره چې د متحده ایالاتو د تابعیتاو کډوالۍ خدماتو اداره(USCIS) وپوهیږي، چې ستاسو د پناه غوښتنې پروسه باید چټکه شي، د 589-Iفورمې تر بشپړولو وروسته لاندې یاد شوي اضافي پړاوونه هم تکمیل کړئ:

- که چېرې تاسو د 589-Iفورمه سپارئ، د 589-Iفورمې د پناه او د اخراجیا ځنډولو د غوښتنې لپاره وېبپاڼه کې د " چیرته یې باید وسپارم" یا "ځانګړې لاربښوونې" برخه کې د یادو شوو لاربښوونو مطابق پاکټ واستوئ.
- د پاکټ پر مخ "Attn: OAW" ولیکئ؛
- د 589-Iفورمې پر لومړۍ صفحه، .A.I برخه، 19c پوښتنه، خپل اوسنی وضعیت او ورپسې د وضعیت په برخه کې مشروطه اقامه "(Parole)" ولیکئ. د بېلګې په ډول، که چېرې تاسو متحده ایالاتو ته له "OAR"وضعیت سره داخل شوي یاست، تاسو به د وضعیت په برخه کې "OAR (Parole)" ولیکئ؛ او
- د 589-Iفورمې پر لومړۍ صفحه، .A.I برخه، 19c پوښتنې، د نېټې په برخه کې، خپله د داخلېدلو تر ټولو تازه نېټه ولیکئ.

که چېرې تاسو خپله 589-Iفورمه په مناسب ډول بشپړه کړئ او مونږ پرېکړه وکړو چې تاسو د پورتنیو لومړۍ او دویمې کټګورۍ لپاره د وړتوب معیار پوره کوئ، مونږ به د قانون (چې لاندې زیات تشریح شوی دی) تر 2502(c) مادې لاندې د چټک پروسس لپاره ستاسو 589-Iفورمه وسپارو.

**پناه لپاره د غوښتنې فیس څومره دی؟**

پناه لپاره غوښتنه هیڅ فیس نه لري.

**ایا زه کولای شم چې په خپله غوښتنلیک کې خپله ښځه/ میړه او ماشومان شامل کړم؟**

تاسو کولای شئ چې د خپلې پناه په غوښتنلیک کې خپله ښځه/ میړه او ماشومان د متکي وګړو په توګه شامل کړئ البته که چیرې هغوی د غوښتنلیک سپارلو پر مهال په متحده ایالاتو کې موجود وي یا تر هغه مهاله موجود شي چې مونږ ستاسو د غوښتنلیک په اړه نهایي پریکړه کوو. ماشومان باید تر 21 کلنۍ کم عمره وي او متاهل نه وي څو ستاسو په غوښتنلیک کې د متکي وګړو په توګه شامل شي. تاسو باید دغه متکي وګړي د خپلې پناه مرکې ته له ځان سره راولئ.

**که چیرې زه د پناه لپاره غوښتنه وکړم، ایا زما امنیتي او د شالید پلټنې به ترسره شي؟**

هو. د هر هغه فرد امنیتي او د شالید پلټنې/ معاینات به ترسره شي چې د پناه لپاره غوښتنه کوي. تاسو ښایي د دغو پلټنو/ معایناتو د پایلو پر بنسټ د پناه ترلاسه کولو مستحق و نه ګڼل شئ.

**ایا د پناه لپاره په مرکه کې راسره څوک مرسته کولای شي؟**

تاسو ښایي د پناه لپاره مرکې ته خپل وکیل یا رسمي استازی درسره راولئ خو لګښت به یې د متحده ایالاتو د حکومت مسؤولیت نه وي.

**که چیرې زه په انګلیسي ژبه خبرې و نه کړای شم، تاسو به له ما سره څه ډول مرکه وکړئ؟**

که چیرې تاسو په انګلیسي ژبه د خپلې پناه لپاره مرکه و نه کړای شئ، مونږ ښایي له تاسو وغواړو چې ستاسو د خپل ژباړن د راوستلو پر ځای د متحده ایالاتو د تابعیتاو کډوالۍ خدماتو اداری(USCIS) قراردادي ژباړن څخه مرسته ترلاسه کړئ. که چیرې د متحده ایالاتو د تابعیتاو کډوالۍ خدماتو اداریقراردادي ژباړن موجود نه وي، مونږ ښایي، په خپله پریکړه، تاسو ته اجازه درکړو چې ستاسو د پناه د مثبتې مرکې لپاره یو ژباړن راولئ.

یو ژباړن باید:

- پر انګلیسي ژبه او ستاسو په ژبه رواني خبرې وکړای شي؛
- 18 کاله یا زیات عمر ولري؛
- د پناه غوښتونکی نه وي؛
- یو شاهد، ستاسو وکیلیارسمیاستازی، یا د افغانستان د حکومت استازی یا کارکوونکی، او که چیرې تاسو د کوم هېواد تابعیت نه لرئ، د هغه هېواد د حکومت کارکوونکی او استازی نه وي، چې تاسو متحده ایالاتو ته تر رسېدلو مخکې پکې مېشت وئ.

که چیرې تاسو له دغو 47 ژبو څخه پر هیڅ یوه رواني خبرې نه شئ کولی، تاسو باید خپلې د پناه مثبتې مرکې لپاره داسې یو ژباړن راولئ چې پر انګلیسي ژبه او ستاسو پر ژبه او یا هرې هغې ژبې رواني خبرې وکړای شي چې تاسو وربانديې رواني خبرې کولای شئ. که تاسو داسې یو ژباړن پیدا نه کړئ چې پر انګلیسي ژبه رواني خبرې وکړای شي او پورته شرایط پوره کړي، تاسو ښایي داسې یو ژباړن پیدا کړئ چې ستاسو پر ژبه او له 47ژبو څخه پر یوه ژبه رواني خبرې وکړای شي. د متحده ایالاتو د تابعیتاو کډوالۍ خدماتو اداره(USCIS) به د انګلیسي او له دغو 47 ژبو څخه د یوې ژبې تر منځ ژباړې لپاره یو ژباړونکی پیدا کړي. که چیرې تاسو له دغو 47 ژبو څخه پر یوه ژبه هم خبرې نه شئ کولای ، خو مونږ وپوهیږو چې د متحده ایالاتو د تابعیتاو کډوالۍ خدماتو اداری قراردادي ټلیفوني ژباړن، چې ستاسو پر ژبه خبرې کولای شي، ستاسو د مرکې لپاره موجود نه وي، مونږ به تاسو ته خبر درکړو چې قراردادي ژباړن موجود نه دی او مونږ د خپل صلاحیت له مخې تاسو ته اجازه درکوو چې تاسو خپل ژباړن درسره راولئ. که تاسو ته د خپل ژباړن د راوستلو لپاره خبر در نه کړل شي، اړتیا نه شته چې مرکې ته درسره خپل ژباړن راولئ، خو د راوستلو مشوره یې درکول کیږي. که چیرې د پناه غوښتنې دفتر و نه توانیږي چې د متحده ایالاتو د تابعیتاو کډوالۍ خدماتو اداری قراردادي ټلیفوني ژباړن د مرکې پر مهال له ځان سره ولري، نوموړی دفتر ښایي ستاسو د پناه د مثبتې مرکې د دوام لپاره له هغه ژباړن ګټه واخلي چې تاسو درسره راوستلی وي. که چیرې د متحده ایالاتو د تابعیتاو کډوالۍ خدماتو اداره د مرکې پر مهال قراردادي ټلیفوني ژباړن له ځان سره و نه لري او تاسو هم یو تکړه ژباړن درسره راوستلی نه وي، مونږ به ستاسو مرکه بل وخت ته وځنډوو او د کارموندنې د اجازې د موخو لپاره به د مرکې د ځنډ نسبت د متحده ایالاتو د تابعیتاو کډوالۍ خدماتو اداری ته وکړو.

**زما د پناه غوښتنې په مرکه کې به څه پېښ شي؟**

تاسې به د پناه غوښتنې دفتر ته د یوې غیر مخالفې مرکې لپاره د پناه له یوه مامور سره راشئ ، چې نوموړی مامور به ستاسو هویت تصدیق او له تاسو د ژوند سوانح او د پناه غوښتنې لاملونه وپوښتي. تاسو چې په مرکه کې هر څه وایاست، محرم به وي. دا مهمه ده چې تاسو د پناه مامور ته خپلې تجربې تر ممکن بریده په تفصیلي ډول ووایاست څو هغوي پرېکړه وکړي چې ایا تاسو د یوه کډوال په توګه په شرایطو برابر یاست. مونږ به د پناه غوښتنې د مرکې پر ورځ ستاسو د غوښتنلیک په اړه پرېکړه و نه کړو.

---

**ما اورېدلي دي چې زه باید متحده ایالاتو ته تر رسېدلو وروسته په یوه کال کې دننه د پناه لپاره غوښتنه وکړم، ایا دا واقعیت لري؟**

هو، داسې قانون شته چې د پناه لپاره غوښتونکي اړ ګڼي چې متحده ایالاتو ته تر رسېدلو وروسته په یوه کال کې دننه د پناه لپاره غوښتنه وکړي، البته که چېرې هغوي داسې اسناد وښودلی شي چې د استثنا وړ یې ګرځوي. له استثناوو څخه یوه استثنا دا ده، چې غوښتونکی داسې فوق العاده حالات وښودلی شي چې د پناه غوښتنې له څنډ سره مستقیم تړاو ولري او د نوموړو شرایطو له مخې په یوه مناسبه موده کې پناه لپاره غوښتنه وکړي.

په عمومي ډول، د پناه غوښتنې څخه مخکې تر یوې مناسبې مودې پورې اعتباري وضعیت ساتل یا مشروطه اقامه به یو فوق العاده حالت وګڼل شي. که چېرې تاسو ته په یوه کال کې دننه اعتباري وضعیت یا مشروطه اقامه درکړل شوې وي او تاسو د دغه اعتباري حیثیت یا مشروطې اقامې د مودې د ختمېدلو دننه په یوه مناسب وخت کې پناه لپاره غوښتنه کړې وي، په عمومي ډول به دغه استثنا تاسو لپاره د تطبیق وړ وي. د متحده ایالاتو د تابعیت او کډوالۍ خدماتو اداري وېبپاڼه "په متحده ایالاتو کې د پناه ترلاسه کول" لا ډېر څانګړي معلومات لري: https://www.uscis.gov/humanitarian/refugees-and-asylum/asylum/obtaining-asylum-in-the-united-states باوري کړئ چې "د متحده ایالاتو د تابعیت او کډوالۍ خدماتو اداري سره د پناه مثبت پروسس" ووینئ.

---

**زه یو افغان مشروطه اقامه درلودونکی یم. که چېرې زه په متحده ایالاتو کې له یوه کال څخه تر زیاتې مودې راهیسې اوسېږم، آیا لا هم د پناه لپاره غوښتنه کولای شم؟**

متحده ایالاتو ته تر داخلېدلو وروسته په یوه کال کې دننه د پناه غوښتنې کولو شرط، پر ټولو پناه غوښتونکو د تطبیق وړ دی. سره له دې، که چېرې افغان مشروطه اقامه درلودونکي په یوه کال کې دننه هم د پناه لپاره غوښتنه و نه کړي، ښایي د استثنا وړ وي.

د استثنا د وړتوب لپاره، تاسو باید لومړی هغه بدل شوي شرایط وښایاست، چې له مادي پلوه د پناه لپاره ستاسو وړتوب اغېزمنوي او یا داسې یو فوق العاده حالت، چې پناه لپاره ستاسو د غوښتنې په سپارلو کې له څنډ سره تړاو ولري. متحده ایالاتو ته تر داخلېدلو وروسته د یوه کال په موده کې د مشروطې اقامې ساتل، د یوه فوق العاده حالت لپاره وړتوب رامنځته کولای شي.

د یوه بدل شوي یا فوق العاده حالت رامنځته کولو سربېره، تاسو باید وښایاست چې شرایطو ته په لیدو مو په مناسب وخت کې د پناه لپاره غوښتنه کړې ده. په داسې حال کې چې ستاسو د مشروطې اقامې موده لا هم اعتبار ولري او د پناه لپاره غوښتنلیک وسپارئ، تاسو ښایي په یوه کال کې دننه د غوښتنلیک سپارلو د فوق العاده شرایطو د استثنا لپاره وړ یاست. (ستاسو مشروطه اقامه به هغه مهال اعتبار و نه لري، چې له شرایطو یې سرغړونه وکړئ). که چېرې تاسو د مشروطې اقامې د مودې تر ختمېدلو وروسته غوښتنلیک وسپارئ، تاسو ښایي لا هم د غوښتنلیک سپارلو د یوه کال مودې د استثنا لپاره وړ اوسئ، البته په دې شرط چې د مشروطې اقامې تر ختمېدلو وروسته په مناسبه موده کې دننه خپل غوښتنلیک وسپارئ. د متحده ایالاتو د تابعیت او کډوالۍ خدماتو اداري یو مامور USCIS به پرېکړه وکړي، چې ستاسو د پناه غوښتنې له مرکې څخه وروسته څنډ مناسب دی که نه.

---

**که چېرې زه د مشروطې اقامې د مودې تر ختمېدلو وروسته پناه لپاره غوښتنه وکړم، څه به پېښ شي؟**

که چېرې تاسو د مشروطې اقامې د مودې تر ختمېدلو وروسته پناه لپاره غوښتنه وکړئ، مونږ به ستاسو غوښتنلیک قبول او د یوې مرکې لپاره به درته وخت وټاکو. په مرکه کې به پر دې لامل د بحث کولو تر څنګ، چې تاسو ولې د پناه لپاره غوښتنه کوئ، د پناه غوښتنې مامور به له تاسو څخه په دې اړه هم پوښتنې وکړي چې ولې مو مخکې د پناه لپاره غوښتنه کړې نه ده. د پناه غوښتنې مامور به ستاسو د ځوابونو پر بنسټ پرېکړه وکړي چې ایا تاسو یوه بدل شوي یا فوق العاده حالت لپاره وړ یاست او یا دا چې ایا پناه لپاره ستاسو د غوښتنلیک په سپارلو کې څنډ شرایطو ته په لیدو معقول دی که نه.

که چېرې د پناه غوښتنې مامور پرېکړه وکړي چې تاسو یوه بدل شوي یا فوق العاده حالت کې وئ او د غوښتنلیک په سپارلو کې ځنډ مو معقول دی، تاسو به د غوښتنلیک سپارلو لپاره د یو کال مودې له شرط څخه مستثنی وګڼل شئ. تر هغه وروسته به د پناه غوښتنې مامور، پناه لپاره ستاسو د غوښتنې په اړه پرېکړه وکړي.

که چېرې د پناه غوښتنې مامور پرېکړه وکړي چې تاسو یوه بدل شوي یا فوق العاده حالت کې نه وئ او د غوښتنلیک په سپارلو کې ځنډ مو معقول نه دی، تاسو به د غوښتنلیک سپارلو لپاره د یو کال مودې له شرط څخه مستثنی او د پناه لپاره مستحق و نه ګڼل شئ. که په دغه وخت کې تاسو د کډوالۍ حیثیت یا په متحده ایالاتو کې د پاتې کېدلو اجازه ترلاسه کړې نه وي، مونږ به ستاسو د پناه غوښتنې قضیه د کډوالۍ یوه قاضي ته د غور لپاره راجع کړو.

---

**زه کله باید د پناه لپاره غوښتنه وکړم؟**

مونږ په دې اړوند کومه حقوقي مشوره نه شو درکولای، چې کله او ایا د پناه لپاره باید غوښتنه وکړئ. که چېرې تاسو باور لرئ، چې تاسو باید له متحده ایالاتو څخه د پناه په شکل خوندیتوب ترلاسه کړئ، له دغې پرېکړې څخه سمدستي وروسته باید د پناه لپاره غوښتنه وکړئ. په متحده ایالاتو کې د کډوالۍ حیثیت لپاره تر غوښتنې د مخه د مشروطې اقامې د مودې د ختمېدلو انتظار کومه کټه نه لري.

---

**که چېرې زه مؤقت خوندي شوی وضعیت (TPS) ولرم، ایا د پناه لپاره باید غوښتنه وکړم؟**

تاسو ښایي د مؤقت خوندي شوي وضعیت درلودلو پر مهال د پناه لپاره غوښتنه وکړئ، خو مونږ یې په اړه مشوره نه شو درکولای ځکه چې مونږ حقوقي مشوره درته چمتو کولای نه شو. د حقوقي خدماتو چمتو کوونکي د موندلو په اړه معلوماتو لپاره"حقوقي خدمات پیدا کړئ" برخې ته مراجعه وکړئ. په مهربانۍ سره یاد لرئ، چې مؤقت خوندي شوی وضعیت هم د مشروطې اقامې په څېر د لږې مودې لپاره دی.

---

**که چېرې زه د کډوالۍ ځانګړې ویزه (SIV) ولرم، ایا د پناه لپاره باید غوښتنه وکړم؟**

تاسو ښایي هغه مهال د پناه لپاره غوښتنه وکړئ، چې د کډوالۍ ځانګړې ویزه (SIV) ولرئ، خو مونږ یې په اړه مشوره نه شو درکولای ځکه چې مونږ حقوقي مشوره درته چمتو کولی نه شو. د حقوقي خدماتو چمتو کوونکي د موندلو په اړه معلوماتو لپاره"حقوقي خدمات پیدا کړئ" برخې ته مراجعه وکړئ. د مشروطې اقامې یا د مؤقت خوندي شوي وضعیت (TPS) برعکس، د کډوالۍ د ځانګړې ویزې(SIV) درلودلو حیثیت او پناه د کډوالۍ دایمي حیثیت ترلاسه کولو ته لاره هواروي. سره له دې، د کډوالۍ د ځانګړې ویزې (SIV) او پناه درلودلو ګټې له یو بل سره توپیر لري. په دې اړه تر پرېکړې کولو وړاندې، چې د کډوالۍ دایمي حیثیت ترلاسه کولو لپاره څه ډول پر مخ ولاړ شئ، تاسو یې باید په توپیرونو وپوهېږئ.

---

**د پناه مامور به څه ډول پرېکړه وکړي چې ایا زه د پناه لپاره مستحق یم؟**

د پناه مامور به هغه معلومات وارزوي چې تاسو په خپل غوښتنلیک یا د مرکې په اوږدو کې چمتو کړي وي او همدا راز هغه معلومات هم، چې ښایي هغوي سره موجود وي. نوموړی مامور به د دغو معلوماتو له مخکې پرېکړه وکړي چې:

- ایا تاسو د یوه کډوال شرایط پوره کوئ، او
- تاسو د پناه ورکولو څخه منع شوي نه یاست، او
- تاسو د یوه امتیاز په توګه د پناه لپاره مستحق شوي یاست.

---

**که چېرې د متحده ایالاتو د تابعیت او کډوالۍ خدماتو اداره ما د پناه لپاره مستحق و نه ګڼي، څه به پېښ شي؟**

که چېرې تاسو مستحق و نه ګڼل شئ، خو تاسو لا هم د ویزې وضعیت  یا مشروطه اقامه لرئ څو تاسو په متحده ایالاتو کې د پاتې کېدلو لپاره شرایط پوره کړي وي، د متحده ایالاتو د تابعیت او کډوالۍ خدماتو اداره به ستاسو د پناه د غوښتنې د رد یوه خبرتیا درولېږي. په دغه خبرتیا کې به هغه لامل یا لاملونه تشریح شوي وي چې له مخې یې تاسو نامستحق ګڼل شوي یاست. تاسو به د دغو لاملونو د رد/ انکار او د خپلې پناه غوښتنې د ملاتړ لپاره د اضافي شواهدو چمتو کولو لپاره فرصت ولرئ. که چېرې تاسو د کډوالۍ اعتباري وضعیت یا مشروطه اقامه و نه لرئ یا د پناه غوښتنې د دفتر د پرېکړې پر مهال په متحده ایالاتو کې د پاتې کیدو لپاره په شرایطو برابر نه یاست، تاسو به د اخراج په  وضعیت کې ځای پر ځای او د متحده ایالاتو د تابعیت او کډوالۍ خدماتو اداره به ستاسو د پناه غوښتنلیک د کډوالۍ قاضي ته واستوي او هغه به ستاسو د پناه غوښتنلیک بیا وارزوي.

---

**زه د خپلې قضیې وضعیت څه ډول معلوم کړم؟**

تاسو کولای شئ چې د خپلې پناه غوښتنې د وضعیت تعقیبولو لپاره په انلاین بڼه د قضیې وضعیت (egov.uscis.gov/casestatus/landing.do) څخه ګټه واخلئ. تاسو به د رسید هغې شمېرې ته اړتیا ولرئ چې د متحده ایالاتو د تابعیت او کډوالۍ خدماتو اداري ستاسو د پناه د غوښتنلیک له سپارلو څخه وروسته دراستولی وي. که چېرې تاسو لا هم پوښتنې لرئ، زمونږ د پناه غوښتنې د دفتر موقعیت معلوموونکی (egov.uscis.gov/office-locator/#/asy) وکاروئ څو د متحده ایالاتو د تابعیت او کډوالۍ خدماتو اداري د پناه هغه دفتر ومومئ چې ستاسو د پناه مرکه یې ترسره کړې وي یا به یې ترسره کړي.

________________________________________________________________________________

**د پناه غوښتنې پروسه څومره وخت نیسي؟**

مونږ د پناه پر هغو ځنډېدلو غوښتنلیکونو کار چټکوو چې د مشخصو افغان غوښتونکو له لورې سپارل شوي وي. مونږ به د دغو غوښتنلیک سپارونکو لپاره، په 45 ورځو کې دننه د پناه غوښتنې لپاره لومړنۍ مرکه ترسره کړو او که چېرې استثنایي حالتونه موجود نه وي، په 150 ورځو کې دننه به نهایي پرېکړه وکړو. د لا زیاتو معلوماتو لپاره، د افغانانو د معلوماتو لپاره د متحده ایالاتو د تابعیت او کډوالۍ خدماتو اداري د وېبپاڼې د پناه برخه ووینئ: .(uscis.gov/humanitarian/information-for-afghan-nationals)